# د امریکا جنګي پروژه او د اسلامپالو سیاستوالو برخلیک



څه د پاسه ۱٦ کاله کېږي چې افغانستان د «تروریزم» تر نامه لاندې، له اسلام او مسلمانانو سره د امریکا او ناټو د جګړې په لمبو کې سوځي. له یرغلګرو سره د ستراتیژیک او امنیتي تړون له لاسلیک وروسته، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې دغه پلیده جګړه د مسلمانانو په وینو پر مخ بېول کیږي؛ ځکه د سترو نړیوالو سیاسي لوبغاړو لپاره افغانستان حیاتي او ستراتیژیک اهمیت لري. افغانستان د جنوبي، منځنۍ او لویدیځې آسیا په منځ کې تر ټولو لوړه سیمه ده، چې د چین او روسیې په ګډون د پراخو سیمو د تهدید او پر هغوی د واکمنۍ لپاره د یوه پیاوړي او ستراتیژیک موقعیت حیثیت لري، چې د پخوا په څېر اوس د امریکا او ناټو له خوا اشغال شوی دی.

که څه هم امریکا او ناټو افغانستان د غوره حکومتولۍ، بشري حقونو، مدني بنسټونو، د افغانانو د ژوند د سطحې د لوړولو، پرمختګ، امنیت او سوکالۍ تر شعارونو لاندې اشغال کړ؛ مګر د دې برخلاف امریکا د ستراتیژیک او امنیتي تړون له لاسلیکولو وروسته افغانستان په سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره د یوې جنګي پروژې په توګه کاروي. دربیمه دوره ډیموکراتیکې ټاکنې په لوی لاس له ناورین سره مخ شوې او شته حکومت یې له هغه نیمګړې ډیموکراتیک مشروعیت څخه راوغورځاوه. پارلماني ټاکنې د امنیتي او مالي ستونزو له امله ترسره نه شوې او پخواني پارلمان د نامشروع حکومت د فرمان له مخې خپل کار ته ادامه ورکړه.

د هېواد په داسې ناوړه شرایطو کې امریکا خپل نامشروع حکومت ته پر واک باندې د ولکې ټینګولو شین څراغ ورکړی او اشرف غني پر امنیت شورا، د ملي تدارکاتو پر کمیټې، اقتصادي کمېټې، اداري اصلاحاتو پر کمیسیون او نورو برخلیک ټاکونکو دولتي ارګانونو خپلې پانګوالي منګولې ټینګې کړې دي. بل پلو په حکومت کې د وړ او ځوانو استعدادونو او تکنوکراتانو د ځای پرځای کولو تر نامه لاندې یې ټول هغه اسلامپال عناصر په تدریجي ډول له واکمنۍ څخه ګوښه کړل، چې پخوا یې د شوروي اتحاد پر وړاندې جګړه کړې وه او د افغانستان په اشغال کې یې له صلیبي یرغلګرو سره د هغوی د ځمکنیو ځواکونو رول ادا کړی و او ځانونه یې د کمونیزم او «تروریزم» د ماتولو یعنې جهاد او مقاومت قهرمانان ګڼل. آن تر هغه چې څو ورځې مخکې د بلخ والي عطا محمد نور د ګیلې په ډول اعتراف وکړ، چې امریکا موږ د پیپسي د بوتل په څېر وکارولو او له پیپسي څښلو وروسته یې ایسته وغورځولو.

امریکا د خپل لاسپوڅي حکومت په واسطه د دغو اسلامپالو له ګوښه کولو وروسته یو شمېر نورو اسلامپالو ته د سولې د پروسې له لارې یو لړ امتیازونه ورکړل او هغوی یې د مستقیمو او غیر مستقیمو لارو چارو پر مټ د شته نامشروع حکومت ملاتړ ته چمتو کړل. مګر هغه څه چې په افغانستان کې د امریکایي سیاست له بهیر څخه په څرګند ډول ثابتېږي او هغه یوازې زموږ خبره نه، بلکې خپله د افغانستان په چارو کې د بوش د ادارې د ځانګړي استازي او امریکایي سفیر زلمي خلیلزاد په کتاب «استازي» کې هم په څرګندو ټکو کې لوستلای شئ؛ چې هغوی څنګه په تدریجي ډول غرب پلوي تکنوکراتان د مجاهدینو یا د دوی په ژبه د جنګسالارانو پرځای تر واکه ورسول. نو د سولې له لارې د دغو نوو راغلو مجاهدینو برخلیک هم له تېرو ښاغلو څخه غوره نه دی؛ ځکه د غربیانو له لیدلوري د دوی یوازینۍ ګناه داده چې مسلمانان او اسلامپال دي. د هغوی د دغې کړکې په اړه الله سبحانه وتعالی په قرآن کې لا له وړاندې موږ ته داسې خبرداری راکړی دی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لاَ يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّواْ مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ﴾ (آل عمران: ۱۱۸)

*اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! له خپلو ځانو پرته بل څوک مو د رازونو محرم مه ټاکئ، هغوی ستاسو په حق کې له هېڅ راز شر او فساد څخه ډډه نه کوي. هغوی ستاسو د رنځ او زحمت هیله په «زړونو» کې لري او «تل د دې انتظار کوي» . د هغوی د دښمنۍ «نښې» د هغوی له خولو څخه څرګندې او ښکاره دي او هغه څه چې په زړه کې لري، تر دې ډېر زیات دي «کوم چې دوی یې څرګندوي» . موږ هغه نښې چې «له امله یې دښمن له دوست څخه پرې وپېژنئ» تاسو ته بیان کړلې، که تاسو د تعقل «تفکر» اهلیت ولرئ.*

حال دا چې موږ له ۲۰۱۱م کال را په دېخوا دغو اسلامپالو ته په وار-وار د دغه ناوړه برخلیک خبرداری ورکړی و او د قرآن او سنتو په رڼا کې مو ورته له اخلاصه ډک نصیحت کړی و. مګر هغوی د یرغلګرو موقتي امکاناتو، پُست او چوکۍ ته ترجیح ورکړې او زموږ مخلصانه نصیحت ته یې شا کړې، تر هغه چې نور دوی له هغه زور او ځواک څخه شړل شوي، چې د اسلام او مسلمانانو لپاره کوم داسې څه ترسره کړي، چې د ټولنې د مثبت او اسلامي تغییر په پروسه کې مفید واقع شي. نو هیله ده چې پاتې اسلامپال د تېرو اسلامپالو له برخلیک څخه پند واخلي او د سبا پرځای نن چې ورتیا او قدرت یې لري، د بنسټیز اسلامي بدلون لپاره متې را بډوهي.

ټول هغه عناصر چې د واک له ګدۍ څخه شړل شوي، اوس یې د سیاسي ایتلافونو په جوړولو پیل کړی، چې د دغو ایتلافونو شمېر هم نژدې لسو ته رسیږي. د هغوی ټولو مشترک درد د افغانستان له واکمنۍ څخه شړل کېدل دي او هڅه کوي چې د دغو ایتلافونو له لارې یو ځل بیا واکمنۍ ته ورداخل شي. مګر دا تر هغه ناممکنه ده، ترڅو چې هغوی په سیاسي ډګر کې یوازې پر سیکولریزم عقیده ولري او د هماغه مفکورې پر بنسټ سیاسي عمل وکړي. نو کېدای شي، یو شمېر هغه شړل شوي چې لا تراوسه ځوانان دي، په فساد او ټوپک سالارۍ نه دي تورن، یو ځل بیا په دې شرط د واک پر ګدۍ کینول شي؛ چې هغوی باید له خپلو زړو فکرونو لکه «اسلام، جهاد، شریعت او ...» له یاده وباسي او د یوه سوچه سیکولر سیاستوال په حیث واک ته ورګډ شي.

بل خوا دا یو کره حقیقت دی، چې افغانستان په سیمه کې د امریکا نظامي پروژه ده او په داسې جګړه ییز حالت کې ستونزمنه ده، چې په افغانستان کې دې ډیموکراتیکې ټاکنې ترسره شي؛ ځکه تر ٪۴۰ ډېره خاوره د وسله والو مخالفینو په لاس کې ده. لکه څنګه چې په پخوانیو ټاکنو کې به یې د رایو صندوقونه د ولسوالیو په مرکزونو کې ډکول، دا ځل په هغو سیمو کې د دغه ډول ډیموکراتیک جعل او تزویر امکان هم نشته. نو لومړی د ولسوالۍ شوراګانو او پارلمان ټاکنې ناممکنې دي او که هغه ترسره نه شي، د جمهوري ریاست

ټاکنې هم له امکان څخه لرې برېښي. له دې ټولو سره-سره د پارلماني ټاکنو د نېټې، د برېښنايي تذکرو د وېش او د ټاکنو په کميسيون کې د اصلاحاتو هڅې يوازې د عامه افکارو د غولولو له هڅو پرته بل څه نه دي. له همدې امله ټولو گوښه شوو افغان سياستوالو دا درک کړې، چې په دا ډول شرايطو کې ټاکنې له امکانه لرې دي. نو له اشرف غني سره يې پر سياسي مخالفت لاس پورې کړی دی.

له دې سره-سره امريکا د افغانستان په اړه خپله ستراتيژي هم په سيمه کې له خپلو ستراتيژيکو موخو سره تړلې اعلانوي، نو دا ټول د افغانستان د کړکېچ پر لا خونړي کېدو دلالت کوي؛ ځکه امريکا غواړي د افغانستان د نظامي پروژې له لارې د چين او روسيې په گډون په سيمه واکمنه شي او له دغه ځايه سيمې ته ناآرامۍ صادرې کړي. خو د امريکا د دغه هوډ په مقابل کې چين، روسيه او د سيمې هېوادونه هڅه کوي، ترڅو جگړه د افغانستان له پولو څخه بهر نه شي او بايد خپله په افغانستان کې امريکا او ناټو ماته شي. چې دغه واقعيت افغانستان د گټو د تقابل پر مرکز بدل کړی دی. بل پلو د افغانستان د جگړې د خصوصي کېدو طرحه هم د سپينې ماڼۍ مخې ته پر مېز پرته ده او هره ورځ نوي امريکايي ځواکونه هم افغانستان ته راروان دي او ورځ تر بلې د طالب، داعش او د هغو تر نومونو لاندې د امنيتي کمپنيو په واسطه د ولسي وگړو د وينو تويولو پروسه هم خپل اوج او وروستي شدت ته رسېدلې، چې دا ټول دا ثابتوي چې امريکا له افغانستان څخه د نظامي پروژې په توگه گټه اخلي.

نو د افغانستان د کړکېچ دغو شرايطو ته په کتو سره امريکا ته اړينه ده، ترڅو گوښه شوي، متنفذ سياستوال د راتلونکو ټاکنو لپاره پر کاذب چمتووالي بوخت وساتي او عام ولس ته هم تشې او دروغ هيلې را وپنځوي. امريکا د دې له وېرې چې له دغو شرايطو څخه د امريکا نابودۍ ته ناست هېوادونه گټه پورته نه کړي او په دغو گوښه شوو ناراضه سياستوالو باندې پانگونه ونه کړي، له همدې امله په دې وروستيو کې د سي ای اې مشر او د امريکا د بهرنيو چارو هغه مرستيال وزير چې د جنوبي آسيا د چارو دنده پر غاړه لري، افغانستان ته راغلل، ترڅو د حکومت له سياسي مخالفينو او افغان حکومت سره وگوري. هغوی له مخالفينو څخه د ملي وحدت د حکومت بديله او د ډېرو اړخونو له خوا متفق عليه طرحه وغوښته. هغوی هم د ډېرو اړخونو سره په همغږۍ خپله طرحه دغو لوړپوړو امريکايي چارواکو ته وسپارله. د طرحې له ترلاسه کولو وروسته د سي آی اې مشر او مرستيال وزير هغوی ته د خپلې طرحې د تبليغ او ترويج شين څراغ ورکړ، ترڅو د خپلې دغې طرحې د بريالیتوب لپاره کار وکړي. نو هماغه دي چې نن سبا هغوی په زغرده په رسنيو کې پر دولت نيوکې کوي او آن کېدای شي په نژدې راتلونکې کې يو شمېر دولتي کسان د دغو ايتلافونو له امله په دولت کې استعفاگانې پيل کړي. مگر دغه شين څراغ هم په افغانستان کې د امريکا په نظامي تگلاره کې بدلون نه راولي، بلکې د هغوی د غولولو او عامه افکارو ته د تشو هيلو د ورکولو په موخه يو سياسي اقدام دی او بس.

نو دغو شرايطو ته په کتو نور بايد دغه ١٦ کلن غولول شوي سياستوال د امريکا په لمسون خپل ولس ونه غولوي؛ ځکه نور ولس د امريکا او د هغوی د لاسپوڅو پر غولوونکو شعارونو باور نه کوي. ولس تر دغو چارواکو ويښ دی او ټول عامه فکر د امريکا او جان کيري د دولت خلاف دی. دغه سياستوال که د اسلام او ايمان ادعا لري، نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سپېڅلې وينا له مخې «مومن بايد له يوې سوړې څخه دوه ځله ونه چيچل شي.» مگر بدبختانه هغوی د منافقانو په څېر هر کال يو او يا څو ځله د کفارو سره د دوستۍ په فضا کې سخت غولول کېږي او له هماغه يوې سوړې څخه په وار-وار چيچل کېږي. هغوی ته په دنيا کې دا ډېر د شرم ځای دی، چې د واکمنۍ او قدرت پرمهال د اسلام له برخليک ټاکونکې قضيې څخه ملاتړ ونه کړي او آن يو شمېر يې د غربي مشاورينو په لارښوونه د اسلام پر ضد سياست کوي. کله چې له واکه لرې شي، نور دومره ذليل او ناتوانه شي چې د اسلام څخه څه چې د ځان د دفاع وړتيا هم نه لري. په داسې ضعف او ذلت کې د بنسټيز تغيير لپاره د اسلامي دعوت لپاره هم هېڅ مرستندوی نشي واقع کېدای، نو همدا ده چې په دنيوي ژوند کې د انسان د خلقت د موخې ابتلا «الهي آزموينې» په بهير کې ناکام ثابتېږي. دا هغه څه

دي چې الله سبحانه وتعالی د یوه انسان اصلیت خپله انسان او نورو انسانانو ته افشا کوي، ترڅو د اخروي ژوند دایمي ټاټوبی یې ورمعلوم کړي. نو د ابتلا «الهي آزموینې» دغه بهیر ته په کتو سره تر اوسه دا چانس لري، چې له خپلو ناوړه اعمالو څخه توبه وباسي او په خپل فکر، عمل او ټولو امکاناتو سره د اسلامي حاکمیت او اقتدار د رامنځ ته کولو لپاره کار او زیار وباسي. هغه مهال لرې نه ده چې د امت په دغه فاسد حالت کې د صحابه وو په څېر ستر اجر او په جنت کې لوړ مقامونه ترلاسه کړي.

**هادف**